# هیواد
ورځپاڼه

مؤسس: عبدالرووف بېنوا

د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز

سه شنبه دذوالحجة الحرام ۱۶ مه ۱۴۴۴ ق کال | دچنګاښ ۱۳ مه ۱۴۰۲ ل کال | دجولای ۴ مه ۲۰۲۳ م کال | خصوصي ګڼه ۷۲ يمه | پرله‌پسې ګڼه ۱۶۲ مه ، اتمه‌دوره


## د پاکستان له زندانونو افغان بندیان آزادېږي

د افغانستان حکومت وايي: پاکستان کې د پاتې افغان بندیانو د خلاصون هڅې روانې دي. په دې لړ کې کراچۍ کې د افغانستان مشر کونسل له یوشمېر افغان بندیانو سره لیدلي دي. نوموړی وايي: هڅې روانې دي ، تر څو ټول افغان بندیان د پاکستان له زندانونو آزاد شي. د ده په خبره د پاکستان په زندانونو کې داسې کډوال هم شتون لري ،چې قانوني اسناد لري ،خو د پاکستاني پولیسو له لوري نیول شوي دي. په افغانستان کې د اسلامي امارت له بیا واکمن پېدو وروسته د پاکستان له زندانونو شاوخوا ۲۴۰۰ افغان کډوال ازاد او هیواد ته راستانه شوي دي.

## افغانستان به د خوراکي توکو د تولید برخه کې پر ځان بسیا شي

د اسلامي امارت ویاند ښاغلی ذبیح الله مجاهد وايي ،چې د



څېړنو پر بنسټ په افغانستان کې د انفلاسیون کچه منفي یوه ته راټیټه شوې ده. نوموړي پر خپله ټویټر پاڼه لیکلي ،چې په افغانستان کې د توکو بیې له ډېرو پرمختللو هیوادونو ټیټې دي. ورته مهال د اقتصاد وزارت له کورنیو تولیداتو ملاتړ او د بهرنیو اسعارو په وړاندې د افغانیو د ارزښت ساتل هغه لاملونه ګڼي ،چې له امله یې په هیواد کې د انفلاسیون نرخ راټیټ شوی دی.

له دې سره هممهاله د ریاست الوزراء کفیل بیا ډاډ ورکوي ،چې په نږدې راتلونکي کې به افغانستان د خوراکي توکو د تولید په برخه کې پر ځان بسیا شي.

له دې مخکې، نړیوال بانک په یوه راپور کې ویلي: د افغانستان اقتصاد د نړیوالو په مرستو ثابت پاتې دی او تمه ده، چې په راتلونکو دوو کلونو کې به تولیدي برخه لاپسې براخه شي.

## د ریاست الوزراء کفیل د ډاډمن امنیت د تامین له امله د امنیتي ادارو هڅې وستایلې

د افغانستان د اسلامي امارت د ریاست الوزراء کفیل او سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر وړمه



ورځ په دوو جلا کتنو کې د استخباراتو عمومي رئیس مولوي عبدالحق وثیق او د مرکزي دارالافتاء رئیس شیخ نورالله منیر سره ولیدل.په دې کتنو کې، د استخباراتو عمومي رئیس د دې ریاست د فعالیتونو او لاسته راوړنو په اړه د ریاست الوزراء کفیل ته معلومات ورکړل او زیاته یې کړه، په دې وروستیو کې د استخباراتو ریاست ځواکونه او کارکوونکي په بېلابېلو برخو کې د پام وړلاسته راوړنې لري.ښاغلي وثیق وویل: د استخباراتو او نورو امنیتي بنسټونو ترمنځ بشپړه همغږي شته او د امنیتي او استخباراتي پلانونو د عملي کولو لپاره په ګډه کار کوي.د ریاست الوزراء کفیل د لوی اختر په ورځو کې د ډاډمن امنیت د تامین له امله د امنیتي ادارو، مسئولینو او کارکوونکو هڅې وستایلې او د هغوي زیار او زحمت یې د ویاړ وړ وباله. همداراز نوموړي...۵مخ

## د جبل السراج سمنټو پروژه کې زرګونو تنو ته د کار زمینه برابرېږي

د پروان د جبل السراج سمنټو د آفر ګشايي ناسته جوړه شوه. د کانونو او پټرولیم وزارت د مطبوعاتي دفتر د معلوماتو له مخې؛ په دې ناسته کې د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر، د یادې پروژې د اکتشاف بهیر، استخراج او پروسس د پراختیا په اړه ګډونوالو ته معلومات ورکړل. ټاکل شوې ده ، چې مؤظفه کمېټه له آفر ګشايي وروسته، د داوطلبو شرکتونو د پروپوزلونو او اسنادو د ارزونې په اړه خپل کار پیل کړي. د یادونې وړ ده ، چې د جبل



السراج سمنټو پروژه به د څه د پاسه ۲۰۰ میلیونو امریکایي ډالرو په پانګونې سره، په ورځنۍ ډول د ۶۰۰۰ ټنو سمنټو د تولید ظرفیت ولري او زرګونو کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابرېږي.

## د بامیانو له تاریخي او تفریحي سیمو نږدې ۵۰ زره کورنیو سیلانیانو لیدنه کړې

د بامیانو سیمه‌ییز مسئولین وایي: د تېر لوی اختر په څلورو ورځو کې نږدې پنځوس زره کورنیو سیلانیانو د دې ولایت له تاریخي او تفریحي سیمو لیدنه کړې ده.د بامیانو د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس وایي: د بند امیر پارک او د دې ولایت نورو تفریحي او لرغونو سیمو د لوی اختر په ورځو کې د زرګونو کورنیو سیلانیانو پام ځان ته واړولی و.سیف‌الرحمن محمدي وایي: ((د لوی اختر له لومړۍ تر څلورمې ورځې نږدې ۵۰ زرو کورنیو سیلانیانو یا هیوادوالو له بامیانو ولایت څخه لیدنه کړې ده.))یو شمېر سیلانیان ،چې له بېلابېلو ولایتونو د تفریح په موخه بامیانو ته ورغلي، وایي، ډاډمن امنیت او د ګرمۍ موسم د دې لامل شوی، چې د اختر په رخصتیو کې د دې ولایت له تفریحي او لرغونو سیمو



لیدنه وکړي.د کابل اوسېدونکی صفت‌الله وایي: (( ټول هیوادوال هیله لري، چې یو ځل د بند امیر پارک ته راشي، ځکه مناسبه او ښه هوا لري.)) د زابل اوسېدونکی محبوب وایي: ((د بند امیر شاوخوا چې کومې غونډۍ دي، پر دې باید ګلونه او ښایسته ونې کېنول شي، ترڅو د دې سیمې ښکلا لا ډېره شي.))د پکتیا اوسېدونکی حمیدالله زیاتوي: ((امنیت هم ښه دی، ډېر خوندور ځای دی او د چکر لپاره هم...۵مخ

## د وروستیو سېلابونو له امله ۷ تنه مړه او ۹ نور ټپي شوي دي

پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت ویاند وایي، چې په پکتیا، پکتیکا، لوګر، ننګرهار، کاپیسا، پروان او میدان وردګو ولایتونو کې د وروستیو سېلابونو له امله ۷ تنه مړه شوي او ۹ تنه نور ټپیان دي. د نوموړي په وینا: همدارنګه ۳۰۰ کورونه په نیمګړې او بشپړه توګه ویجاړ شوي دي. د دغه وزارت د شمېرو پر بنسټ د دغو سېلابونو له امله ۱۰۰ څاروي او څه باندې زر جریبه ځمکه هم له منځه تللې ده.

## په فاریاب کې د ماین چاودنې ۶ تنو ته مرګ ژوبله اړولې

د فاریاب په خواجه سبزپوش ولسوالۍ کې د ماین د چاودنې له امله درې کسان وژل شوي او درې نور ټپیان دي. عیني شاهدانو ویلي، چاودنه هغه مهال رامنځته شوې ،چې د خواجه سبزپوش ولسوالۍ ((شباختو)) سیمه کې ماشومان خپل کور کې پر لوبو بوخت وو. چاودنه له تېرو جګړو څخه په دې کور کې د پاتې ناچاودي ماین د چاودنې له امله رامنځته شوې ده. د یادې چاودنې د قربانیانو د کورنۍ یوه غړي محمدیوسف ویلي، چې پېښه کې یوه ۱۷ کلنه نجلۍ او دوه ۷ کلن او ۱۰ کلن ماشومان وژل شوي او درې ماشومان



،چې اووه، اته او لس کاله عمرونه لري، ټپیان شوي دي. د نوموړي په وینا، دغه ماین په دې حویلي کې له پخوا پاتې و او یاده کورنۍ ترې ناخبره وه. سرچینې زیاته کړې چې د ټپیانو وضعیت نازک دی او د ښې درملنې په موخه بلخ ته لېږل شوي دي.

## په شهر نو پارک کې د ښاري ښکلا دوه سمبولونه د ښاریانو پرمخ پرانیستل شول

د ښاریانو د ذهني سکون او د ښاري ښکلا د رامنځته کولو په موخه، د کابل ښاروالۍ د زرغونتیا ریاست له لوري په شهرنو پارک کې د ښاري ښکلا دوه سمبولونه د ښاریانو پر مخ پرانیستل شول په دغو سمبولونو کې د اوبو یوه ښکلې فواره او یو کلاسیک آبشار شامل دی.د کابل ښاروالۍ د زرغونتیا ریاست مرستیال سراج الدین پټان وویل، چې کلاسیک آبشار د پارک په ختیځه برخه کې له طبیعي تیږو په ښو پوړیز ډول جوړ شوي دي او شاخوا یې په تیږو فرش پلې لارې، ګلدانونه، څوکۍ او زینتي بوټي په پام کې نیول شوي دي.په همدې توګه د اوبو یوه ښکلې فواره د پارک په مرکزي برخه کې په عصري او معیاري توګه جوړه شوې او شاوخوا یې اوږدې څوکۍ او په ښو پوړیز ډول دوه کمانونه د سلګونو...۵مخ

## د کونړ د نورګل ولسوالۍ اوسېدونکي له حکومته روغتیایي خدمتونه غواړي

د کونړ د نورګل ولسوالۍ اوسېدونکي وایې، څه ډول چې لازمه ده د یادې ولسوالۍ اوسېدونکو ته په روغتیایي برخو کې خدمات نه دي وړاندې شوي. د دغې ولسوالۍ اوسېدونکي د روغتیایي خدمتونو له کموالي څخه شکایت کوي او وایې، زیاتره ځایې استوګن له روغتیایي خدمتونو بې برخې دي.د نورګل ولسوالۍ د شولت درې اوسېدونکی ایاز خان وایي: د ژوند د نورو لومړنیو آسانتیاوو پر نشت سربېره، د روغتیا، پوهنې، بیارغونې او نورو اړینو برخو کې له پامه غورځول شوي دي.ایاز خان زیاتوي: ((زموږ په ولسوالۍ کې د روغتیایي خدمتونو په برخه کې ستونزې ډېرې دي ناروغان په کټ یا په شا او یا موټرو کې یا څوکۍ یا اسعداباد او یا چغه سرای ته د درملنې په هدف



انتقالوو، نو له زیاتو ستونزو سره زموږ ولس مخ دی، ځکه دلته روغتیایي مرکز نشته دي.)) د یادې ولسوالۍ اوسېدونکي د روغتیایي خدمتونو پر زیاتوالي ټینګار کوي او له حکومت او نورو مرستندویه ادارو غواړي ،چې په روغتیایي برخه کې دې دوی ته پام ډېر شي.د نورګل اوسېدونکی انعام الله وایي: د روغتیایي مرکزونو د نشت له امله یې ډېر کله ناروغان خپل ژوند له...۵مخ



## سرلیکنه

# د هیواد ودانولو او پرمختیا لارې چارې...!

موږ سره له دې چې پراخې طبیعي زیرمې، مناسب جغرافیایي موقعیت او د زراعت لپاره پریمانه ځمکه، مناسبه هوا او خوږې اوبه لرو؛ خو بیا هم د نړۍ د پرمختګ له کاروانه ډېر وروسته پاتې یو. موږ اوس هم د اړتیا وړ ډېر شیان له نورو هیوادونو واردوو روغتیایي برخه مو هم ډېرې نیمګړتیاوې لري او هره ورځ مو د هیواد پر پولو ګڼ ناروغان، په دې هیله چې ګاونډیو هیوادونو ته د درملنې لپاره سفر وکړي، ساعتونه-ساعتونه په اوږدو کتارونو کې انتظار باسي. خو دا چې د هیواد د ودانولو او پرمختیا لارې چارې کومې دي، نو لومړی دا چې د هیواد رغونه او پرمختګ زموږ ټولو مسؤلیت او دنده ده، که څه هم د منصبونو او صلاحیتونو په بدلون سره دمسؤلیت په کچه او نوعیت کې هرومرو توپیر شته؛ خو مسؤلیت د ټولو مشترک دی او هغه مهال به مو دغه ستر مسئولیت سرته رسولی وي، چې ټول په خپلو-خپلو برخو کې د مسؤلیت احساس وکړو او د هیواد د رغونې او پرمختګ لپاره متې رابډوهو. د امکاناتو او پوره صلاحیتونو د لرلو له امله طبیعي ده، چې د حکومتي چارواکو مسؤلیت تر نورو ډېر او درووند دی، د خلکو د ځان، مال عزت او ملي ارزښتونو ساتنه، هر چا ته د زده کړو، کار او هوسا ژوند مناسب چاپیریال جوړول د حکومتي چارواکو دنده او مسئولیت دی. خو ددې معنا دا نه ده، چې ملت هیڅ مسئولیت نه لري، بلکې هغوی دنده او مسئولیت لري چې قانون ته درناوی وکړي، د ټولګټو پروژو ساتنه او څارنه د ټولو شریکه وظیفه ده او دغه راز د امنیت او ثبات په برخه کې موږ ټول باید حکومتي ارګانونو سره همکاري خپله دنده وګڼو.

موږ باید په خپله خپل هیواد ورغوو، پردیو مرستو ته په تمه نشو، نورو که هیواد راته رغولی، دا شل کاله به یې رغولی وای، د هغوی د شعاري مرستو تر شا هم ګڼ داسې اهداف او موخې وي، چې زموږ دیني او ملي ارزښتونه یې نه ایجابوي.

که موږ ټول په ګډه کار وکړو او د هیواد رغونه او پرمختګ خپل مشترک مسئولیت وبولو، په راتلونکي نږدې وخت کې به ان شاء الله تعالی د یو پرمختللي، پر ځان بسیا او هوسا هیواد شاهدان واوسو.

# اسلامي امارت او د نشه یي توکو په وړاندې جدي مبارزه!

م- احسان الله بلال

الله تعالی د انسانانو د هوسا او ښه ژوند لپاره له ټولو ښایسته او مناسبه ځمکه پیدا کړې او دلته یې انسانانو ته د ژوند تېرولو یولړ قوانینو هم وضع کړي دي؛ خو اوسمهال د ځینو انساني کړنو او د الله تعالی له قوانیونو د سرغړونې له امله انسانان له یو لړ جدي روغتیایي او ټولنیزو ستونزو سره مخ دي. د چاپېریال ککړتیا او د نشه یي توکو پراخ استعمال هغه ننګونې دي، چې ټوله نړۍ ګواښي او نږدې ټول ژوندي ژوي یې له ناوړه اغېزو کړېږي. که څه هم ستر نړیوال هیوادونه او سازمانونه د دغو ستونزو په وړاندې د مبارزې په نامه نړیوال کنفرانسونه او غونډې جوړوي؛ خو که له شعاري مبارزې ورهاخوا لږ دقیق نظر وشي، په خپله همدغه هیوادونه د خپلو اقتصادي ګټو لپاره د چاپېریال د ککړتیا او د نشه یي توکو د پراخ تولید عاملین دي. دوه لسیزې وړاندې چې کله امریکا او ناټو د ټولو نړیوالو قوانینو خلاف پر افغانستان یرغل وکړ، پر نورو ناخوالو سربېره یې افغان ملت ته د نشه یي توکو د تولید او اعتیاد سوغات هم له ځان سره راوړ. د اشغال په ټوله کرغېړنه دوره کې افغانستان د نړۍ په کچه د نشه یي توکو له ټولو ستر تولیدوونکی هیواد یادېده او په دغې موده کې د مېرمنو او ماشومانو په ګډون شاوخوا څلور میلیونه افغانان د نشه یي موادو پر استعمال روږدي شول. دا هر څه اتفاقي نه وو، بلکې د یو منظم پلان له مخې د خپلو ګټو لپاره کېدل او پر افغانستان د یرغل موخو کې یوه دا هم وه، چې امریکا په ډېره هوښیارۍ او مکر دلته د نشه یي موادو پراخ تولید وکړ او له دې درکه یې ټرېلیونونه ډالر عواید ترلاسه کړل، خو افغان ملت ته یې لوازې نړیواله بدنامي او میلیونونه معتادین په میراثپاتې شول.

واک ته له رسېدو وروسته پر اداري فساد او اقتصادي ستونزو سربېره د نشه یي موادو پراخ تولید او استعمال هم یوه ستره جدي ستونزه وه، چې اسلامي امارت ورسره مخ و، خو له نېکه مرغه چې د اسلامي امارت زعیم امیرالمؤمنین شیخ «هبة الله» اخندزاده حفظه الله په دې برخه کې قاطع تصمیم ونیو، په ټول هیواد کې یې د کوکنارو او بنګو کښت غیر قانوني اعلان کړ، د هر ډول نشه یي توکو پر تولید، قاچاق او استعمال یې بندیز ولګاوه او سرغړوونکو ته یې د سزا لپاره ځانګړې محکمې جوړې کړې.

اسلامي امارت د خپل واک په دې موده کې، په لږو امکاناتو توانېدلی، چې د نشه یي توکو د تولید او قاچاق مخه ونیسي او کابو صفر ته یې کچه راټیټه کړي. دغه راز یې په یوازې سر لسګونه زره معتادین راټول کړي او درملنه یې کړې، چې په دې وروستیو کې د پل سوخته سیمې پاکول او رغول یې له ټولو نوې او ښایسته بېلګه یاد ولی شو، خو له بندیز سره سره حکومت باید کروندګرو ته بدیلې لارې چارې پیدا کړي او د کوکنارو پر ځای د زعفرانو، غنمو او نورو ګټورو بوټو د کرلو امکانات هم برابر کړي، چې ورسره به نه یوازې د نشه یي توکو د تولید مخه ونیول شي، بلکې تر ډېره حده به د خوراکي توکو اړتیا هم په کور دننه پوره شي او هیواد به د اقتصادي ثبات او پرمختګ پر لور روان شي.

اسلامي امارت د نشه یي توکو په وړاندې مبارزې ته ژمن دی او په دې برخه کې یې چټک اقدامات هم کړي؛ خو د نشه یي توکو پر ضد مبارزه یوازې د حکومت دنده او مسئولیت نه دی، بلکې د عامه پوهاوي لپاره رسنۍ، دیني عالمان، ښوونکي او نور پوهان هم باید خپل رسالت ادا کړي او ملت د نشه یي موادو د استعمال او تولید له زیانونو خبر کړي.



# کـــتیر یعنې د کرنیزو ځمـــکو د لویو ویالو پاکول

شاه محمود درویش

کتیرهغه دودیز ویی دی، چې د کرنیزو ځمکو د لویو ویالو د پاکولو په موخه له پخوا وختونو څخه د لغمان ولایت د الینګار، الیشنګ... ولسوالیو د اوسیدونکو ترمنځ پایښت لري او هرکال یوځل د پسرلي موسم د درېو میاشتو په لړ کې د درې ورځو له پاره د کروندګرو لخوا د کرنیزو ځمکو د لویو ویالو د پاکولو په موخه په لاره اچول کیږي، البته پخوا به چې کله کروندګرو پرېکړه وکړه چې سبا ته به کتیر پیل کوو، نو د قریې د مشرانو لخوا دسیمې نایي ( ډم / سلمان... ) را غوښتل کېده او ورته یې ویل چې نن دې په سیمه کې نغاره و ترنګوه چې سبا ته له خیره کتیر پیل کوو، نو نایي به هم د هماغې ورځې په مازدیګر خپله یوه غټه نغاره او یا هم دوه سره ډول ترغاړې کړ او د ویالې د پای له سیمې څخه به یې آن د ویالې تر سربنده پورې اړوند و کلیو ته خپله نغاره و ترنګوله او په دې به ټول خلک وپوهېدل چې سبا ته له خیره د ویالې اوبه پرچاوېږي او کتیر پیل کېږي، نو د هماغې ورځې په سبا به سهار وختي وروسته له لمانځه څخه د ویالې میرآب له خوا اوبه پرچاوې شوې او پر نوموړې ویالې پورې اړوندو ځمکه لرونکو کروندګرو به هم چې کله خپل سباناری(سهارنی) نوش جان کړ، نو هرچا به خپله بېلچه (یوم) یا چارې له ځان سره واخیسته او په ویاله کې چې کوم حد ورته له پخوا څخه د کرنیزې ځمکې د لرلو په اندازه ټاکل شوی و، هرچا دهغه د پاکولو په کار پیل وکړ او پوره دوه ورځې ددې لپاره وخت و، چې هرشخص کوښښ وکړي په ښه ډول خپله ټاکلې اندازه د هرراز اضافي خټو، تیږو او ... څخه په بشپړه توګه پاکه کړي، همداشان د کتیر په دریمه ورځ بیا هم د نوموړې ویالې د پای له سیمې څخه ټول کروندګر دسهار د چای له ښځلو څخه وروسته پرکاري وسایلو سمبال، په داسې حال کې چې د قریې نایي هم خپل دوه سری ډهل په غاړه کې اچولی وي، د ډهل په ډم ډم وهلو په ویالې باندې مخ پرسربند روانېږي او د لارې په اوږدو کې په ویاله کې د کروندګرو د ټاکلې حد د پاکوالي له کار څخه څارنه هم کوي، نو هر ځای چې ښه پاک شوی نه وي، دمشرانو لخوا پر ځوانو کروندګرو امر کېږي چې هله څو تنه ځوانان ورښکته شئ، دغه ځای په ښه ډول پاک کړئ، چې په بشپړه توګه نوموړې ویاله ترسربنده پورې همداشان څارل کيږي او کومې ساحې چې حد کشې شوې نه وي په ټولیزه توګه د ټولو کروندګرو په همکارۍ پاک کاري کېږي او آن که چیرې د غرمې د ډوډۍ تروخته پورې هم د ویالې د پاککارۍ ، کار پای ته ونه رسېږي د کروندګرو کورنۍ مجبورې دي چې د ویالې په سر خپلو نارینه وو ته د غرمې ډوډۍ(خواړه) را ولېږي، چې د غرمې ډوډۍ له خوړلو او هم دماسپښین دلمانځه له اداکولو وروسته بیا هم پر خپلو کارونو پیل کوي، ترڅو چې ویاله ترسربنده پورې په بشپړه توګه پاکه شي، البته د کروندګرو د کار په بهیرکې نوموړی نایي په پرله پسې توګه آرام نه کښېني، بلکې خپل ډهل یا نغاره ترنګوي او کله کله د ځوانو کروندګرو لخوا د کار د فراغت په وخت کې پر نوموړې نایي غږ کېږي چې یاره د یو ملي آتڼ ساز راونیسه ترڅو ځانونه لږ څه خولې کړو، چې بیا سمدلاسه د ځوانانو د غوښتنې پراساس د ملي آتڼ ساز پیل کېږي او ځوان کروندګر ورته په ډېرې خوښې چپ اوراس تاوېږي او په خورا مینه آتڼ کوي، همداشان چې کله د ویالې د پاککارې، کار ترسربنده پورې بشپړ شو، نو په سربند کې د خیرد دعاله کولو وروسته بیا هم د مشرانو له امر سره سم نوموړې ویالې ته اوبه ترل کېږی او په سربند کې بیا هم د نایي لخوا د یو ملي آتڼ ډهل وهل کېږي چې ځوان کروندګر بیا هم په ډېرې خوښي او خوشحالي په ملي آتڼ پیل کوي او له څو شیبو مست آتڼ څخه وروسته ټول کروندګر د خوښۍ په یو ځانګړي احساس په ټوکو او ټکالو د خپلو کلیو او کورونو پر لور روانېږي.

د یادونې وړ ده چې د ویالو دپاککارې یا کتیر کار اوس هم هر کال ترسره کېږي، خو دهغه پخواني دود او دستور له مخې نه په کې نغاره ترنګول کېږي او نه هم په کې ډهل وهل کېږي.



شنونکي:

# د فشار او بندیزونو د دوام پلمه نه ده پاتې

د چارو کارپوهان وايي ،چې د امریکا د جمهور رئیس له وروستیو څرګندونو وروسته امریکا او نورې نړۍ ته کومه پلمه نه ده پاتې ، چې پر افغانستان فشار راوړي او یا خپل اقتصادي



بندیزونه وغځوي.

د سیاسي چارو کارپوه عبدالواسع قانع وايي: اوس نړۍ ګوري چې امریکا په خپل نوي دریځ کې څومره صادقه ده او وروسته به دوی هم ورته عمل کوي او له افغانستان سره به تعامل ته را وړاندې کیږي:

(( که امریکا په خپل دریځ کې صادقه وي او یو څه عملي ګامونه واخلي، لرې نه ده ،چې نورهیوادونه به یا په خپله او یا د امریکا په اشاره را وړاندې شي او یا به ځینې هیوادونه دې ته په تمه شي چې امریکا عملي اقدام وکړي، بیا به دا نور هیوادونه هم په لنډ وخت کې هغه څه وکړي، چې امریکا کړي او یا ترې غوښتنه کوي.))

د سیاسي چارو شنونکی توریالی همت وايي:

امریکا نور باید د افغانستان کنګل شوې پیسې آزادې کړي، ځکه له دې وړاندې یې ویل چې دا پیسې د سخت دریځو ډلو لاس ته ځي، اوس چې دا ډلې نشته نو دوی هم بله پلمه نه لري.

همت وايي: ځینو هیوادونو چې په افغانستان کې د وسله والو ډلو د شتون خبره کوله، دا د امریکا د خوشحالولو لپاره وه او اوس هغه پلمه هم له منځه لاړه: (( زه ډاډه یم چې په نن او سبا کې به ټول هېوادونه او چارواکي یې پر دې اعتراف وکړي، چې دلته د دوی مخالفین نشته، روس به هم ورته خبره کوي او چین به هم داسې وايي، نو اوس روسیې، چین، ایران او نورو هیوادونو ته په کار ده چې اسلامي امارت په رسمیت وپېژني.))

همدارنګه د سیاسي چارو کارپوهان وايي: امریکا درک کړې چې د اسلامي امارت وړاندې جګړه بېه پایله نه ورکوي او اوس د مخالفتونو سیاست هم بې پایلې دی.

دوی وايي: د امریکا په مشرۍ نړیواله ټولنه باید د افغانستان نظام په رسمیت وپېژني ځکه دلته یوازې د اسلامي امارت مسئله نه ده ، بلکې د افغانستان ۴۰ میلیونه نفوس له سختو نړیوالو بندیزونو او فشارونو سره مخ دی.

دوی زیاتوي: سره له دې چې ټوله نړۍ ځان د بشر د حقونو مدافع ګڼي اوپه دې برخه کې پر افغان حکومت نیوکې هم کوي ، خو خپله یې ۴۰ میلیونه افغانان له نړیوالو حقوقو بې برخې کړي.

د سیاسي چارو کارپوه سرور نیازي وايي: (( د امریکا ولسمشر جوبایډن په دې پوهېږي چې جنګ د حل لاره نه ده. دوی ( امریکا ) په افغانستان کې د طالبانو (( اسلامي امارت)) په وړاندې ۲۰ کاله جګړه وکړه، خو وې نشوي کړای ،چې طالبان له منځه یوسي ،بلکې د طالبانو شمېر ورځ تر بلې زیات شو او ټول ملت د دوی (طالبانو) ترڅنګ ودرید.

نو اوس باید د تعامل لاره غوره شي او د افغانستان خلک باید هېر نه شي. دلته د حکومت یا د طالبانو مسئله نه ده، بلکې دلته افغانان ځوریږي، ترڅو دغه حکومت پر رسمیت ونه پیژندل شي، څوک پانګونه نه کوي، کاروبار به نه وي، تجارت به نه وي، اقتصادي چارې به پر ټپه ولاړې وي او دا د افغانانو پر زیان دي.))

ځینې نور بیا په دې باور دي ، که اسلامي امارت غواړي چې له نړۍ سره رسمي تعامل ولري او ولس یې له بندیزونو خلاص شي، نو په کار ده د نړۍ هغه شرایط او غوښتنې چې له اسلامي ارزښتونو او افغاني کلتور سره په ټکر کې نه دي عملي کړي.

نږدې دوه کاله کیږي چې اسلامي امارت واک ته رسېدلی دی، خو لاهم هېڅ هیواد د افغانستان د نظام رسمیت پیژندنې ته زړه نه دی ښه کړی او باور دادی چې ټول امریکا ته په تمه دي. که واشنګټن له کابل سره تعامل ته ورسېږي، نو نوره نړۍ به هم له اسلامي امارت سره ستونزه ونه لري.

عزیز الله قالین فروش:

## قالین های افغانی از کیفیت عالی برخوردار میباشند

آگاه هان اموراقتصادی:

## توجه به رشد صنعت قالین بنیه مالی کشور را تقویت میبخشد

بدون شک رشد صنایع دستی و تولیدات داخلی در یک کشور سبب زدودن بیکاری و فقر می شود وهمچنان اقتصاد آنکشور افزایش می یابد و صنعت قالین بافی یکی از صنایع دستی قدیمی افغانستان است که زیربنای اقتصادی بیشتر خانواده را تشکیل داده و قالین افغانی از



کیفیت عالی برخوردار می باشد ،از این رو توجه امارت اسلامی و وزارت صنعت و تجارت هم به تولیدات قالین افغانی بیشتر شده واز صنعت کاران قالین می خواهند که با ارائه طرح های سازنده زمینه را برای تولیدات و صادرات بیشتر فراهم سازند.

شماری از قالین بافان به این نظر اند:که زمان بافت یک متر مربع قالین مرغوب و قیمتی به سه تن قالین بافهای ماهر ضرورت است که در یکماه می‌توانند آنرابابافند.از همین رو صنعت قالین بافی با وجود دشواری های زیاد،نیاز به سرمایه‌گذاری های هنگفت و تلاش های بیشتری دارد.

آنان از مسولین وزارت صنعت و تجارت افغانستان می خواهند که برای رشد صنعت قالین در کشور با شرکت های خصوصی سرمایه‌گذاری های مشترک انجام دهند.

اخیراً اتحادیه تولیدکننده گان صنعت قالین گفتند، که صنعت قالین بافی با گذشت هر روز خوبتروبهتر می شود در سال ۱۴۰۱خورشیدی بیش از یک میلیون متر مربع قالین افغانی به خارج افغانستان صادرات داشت و در نظر است که در سال‌جاری ۱۴۰۲ خورشیدی بیشترقالین صادر شود.

محمد رضاحیدری رئیس اتحادیه تولید کنندگان قالین به خبرنگار آریانا نیوز گفت:این پیمانه نسبت به سال گذشته بیش‌تر است کوشش و تلاش صورت می گیرد که بازهم بیشتر تولید کنیم.زیرا اطلاعات هم به ما همین را نشان می دهد.اگر به حساب فیصدی بگویم تا حدود پانزده فیصد صادرات می توانیم داشته باشیم.

عبدالولی سخی زاده یکتن از قالین فروشان افغانی چنین گفت:«خواست ما از امارت اسلامی افغانستان اینست که در قسمت صادرات و واردات شرایط بهتری را فراهم سازند،فعلاً صادرات ما کم است.»

عزیز الله یکتن دیگر از قالین فروشان افغانی به این باور است:«ما از افغانستان نمایندگی ص۵

# مهار آتش سوزی در کشور

توفیق تیموری

در این اواخر در بعضی ولایات کشور شاهد آتش‌فشانی ناگهانی که به اثر بی‌توجهی افراد و یا شارتی برقی شده که زیان‌ها مالی هنگفتی را سرمایه‌داران متقبل شدند در این مقاله سعی برای جلوگیری از آتش‌سوزی شده است که باید جدی در نظر گفته شود که خدای‌نخواسته در آینده‌ها چنین اتفاق بار دیگر نیفتد زیرا سرنوشت ملت ما گره‌خورده به اقتصاد مردم ماست هرچه قشر سرمایه‌داران ما آسیب مالی ببند ملت افغانستان هم چند برابر ضرر آن را عملاً می ببینند ولی خوشبختانه امارت اسلامی با مهار تمام آتش‌سوزی‌ها، جلوگیری از تبلیغات منفی دشمنان وطن علیه نظام امارت اسلامی و دیگر موارد که الحمدالله مسئولین امارت اسلامی درزمینهٔ موفق و پیروز میدان شده است.

ما نمی‌توانیم پیش‌بینی کنیم که چه اتفاقی در محل کار خواهد افتاد ، اما می‌توانیم اقداماتی را برای اطمینان از سالم ماندن مردم انجام دهیم. برای این کار، ما به یک برنامه ایمنی و آموزشی برای آتش‌سوزی نیاز داریم. ممکن است فعلاً این اقدام سخت به نظر برسد.

ایمنی در برابر آتش در هر ساختمان از اهمیت ویژه‌ای برخوردار است. ما مسئولیت اطمینان از عدم رعایت محل کار خود با استانداردهای لازم برای سلامتی و صحت مندی راداریم.

این بسیار مهم است که محیط کار ما برای اطمینان از ایمنی کارمندان و محافظت از ساختمان خود از کلیه مقررات مربوط به ساختمان پیروی کند. ایمنی در برابر آتش‌سوزی همیشه باید مهم‌ترین دغدغه باشد، مهم نیست که چه نوع شغلی را اداره می کنیم و چه تعداد افراد شاغل هستند.

ارزیابی خطر آتش‌سوزی همیشه باید توسط شخص مسئول انجام شود. برای انجام ارزیابی آتش‌سوزی باید اقدامات زیر را انجام دهیم: خطرات احتمالی آتش‌سوزی را شناسایی کنیم: در مورد یافتن آتش‌سوزی، هر چیزی را که می‌تواند آتش‌سوزی را ایجاد کند یا به‌راحتی بسوزاند، یادداشت کنیم. افرادی که در معرض خطر هستند را شناسایی کنیم: (به‌عنوان‌مثال معلولین و سالمندان به‌ویژه آسیب‌پذیر هستند) روی یافته‌ها عمل کنیم: خطرات احتمالی را ارزیابی، کاهش یا حذف کنیم. ضبط - سابقه‌ای از یافته‌ها را نگه‌داشته ، یک برنامه اضطراری تهیه کرده و آموزش ایمنی در برابر آتش را ارائه دهیم.

بررسی - ارزیابی خطر آتش‌سوزی باید به‌طور مرتب انجام شود و تمام یافته‌ها به‌روز و ثبت می‌شوند.

این کار توسط شخص مسئول ایمنی در برابر آتش و با کمک راهنماهای ارزیابی خطر آتش‌سوزی قابل انجام است. بسته به نوع مشاغل، تعدادی راهنمای مختلف وجود دارد که برای هر محیط کاربرد دارد. ما می‌توانیم از این لیست بررسی سنجش خطر آتش‌سوزی استفاده کنیم تا اطمینان حاصل شود که کلیه مبانی را در برگرفته‌ایم. در حین ارزیابی خطر آتش‌سوزی، مواردی وجود دارد که باید در نظر گرفته شود تا به‌درستی و به‌طور کامل انجام شود. این موارد شامل برنامه‌ریزی در موارد زیر هست: مسیرها و خروج‌های اضطراری. دستگاه‌های اعلام حریق. دستگاه‌های اطفای حریق.اخطار آتش‌نشانی و تجهیزات مناسب آتش‌نشانی.

در محل کار؛ این موضوع نگرانی بسته به هر مشاغلی متفاوت هست. اگرچه صاحبان مشاغل معمولاً اصلی‌ترین فرد در تصمیم گیری جهت تأمین ایمنی در محیط کار هستند، اما همه کارکنان باید آگاه باشند که چگونه می‌توانند به جلوگیری از آتش‌سوزی در محیط کار خود کمك کنند و این می‌تواند یک تلاش تیمی باشد.

و از جلوگیری از وقوع یک وضعیت فاجعه‌بار در طول شب کمک بگیریم.

توزیع مدارهای الکتریکی بر اساس میزان مصرف تجهیزات؛ بیش‌ازحد بارگذاری مدارهای الکتریکی با بیش از ظرفیت توصیه‌شده باعث می‌شود که فیوز منفجر شود ، بیش‌ازحد گرم شود و به یک خطر آتش‌سوزی بزرگ تبدیل شود.



مهار آتش‌سوزی؛ همچنین ارائه اطلاعات مناسب به کارمندان و هر کس دیگری در محیط کار و همچنین ارائه آموزش مناسب کارکنان مهم است. ایمنی آتش‌سوزی همیشه باید جدی گرفته شود و راه‌های زیادی وجود دارد که می‌توانیم به‌آسانی از وقوع آتش‌سوزی در حد امکان جلوگیری کنیم.

۱۰ نکته برای جلوگیری از آتش‌سوزی در اینجا چند نکته در مورد چگونگی جلوگیری از آتش‌سوزی در محل کار آورده شده است: تمام وسایل برقی را در انتهای روز خاموش کنیم.ناگفته پیداست که وسایل برقی می‌توانند به‌راحتی بیش‌ازحد گرم شوند یا خراب شوند و به یک آتش‌سوزی بزرگ در محل کار تبدیل شوند. بنابراین، در پایان هرروز از خاموش بودن تمام وسایل اطمینان حاصل کنیم هرگونه نقص و مشکل در شبکه الکتریکی را برطرف کنیم. گسل‌های الکتریکی یکی از اصلی‌ترین دلایل آتش‌سوزی در محل کار است ، بنابراین مهم است که همه افراد در محیط کار مواظب هرگونه عیب الکتریکی باشند و فوراً به آن‌ها توجه آن‌ها نمایند. اگر متوجه شدید که سیم‌های برق آسیب‌دیده‌اند، باید سریعاً تعویض شوند.

فضای های شلوغ از مواد اشتعال‌زا را خلوت کنید. اطمینان حاصل کنید که هر چیزی که می‌تواند به‌راحتی آتش‌سوزی کند ، ازجمله کاغذ یا زباله‌های زباله ، به حداقل می‌رسد و منطقه عاری از درهم‌ریختگی و تراکم موارد قابل اشتعال است. فقط در مناطق مشخص‌شده مانند اتاق دخانیات سیگار بکشید و مطمئن باشید که سیگار شما همیشه خاموش می‌شود.

حواستان به دستگاه‌ها و ماشین‌آلات باشد. از جلوگیری از گرمای بیش‌ازحد و جرقه‌های اصطکاک، اطمینان حاصل کنیم که ماشین‌ها همیشه به‌درستی و مرتباً به‌طور منظم و منظم بررسی و نگهداری می‌شوند.

دسترسی آسان به هیئت‌رئیسه‌های کنترل الکتریکی را ایجاد کنیم .همیشه اطمینان داشته باشیم که هیچ مانعی به‌طور مستقیم در جلوی تابلوهای کنترل الکتریکی قرار نمی گیرد ، تا در صورت بروز اضطراری امکان دسترسی آسان سیستم را قطع کنیم.

از مواد شیمیایی آگاه باشیم. اگر از مواد شیمیایی در محیط کار استفاده می‌کنیم، همیشه از آن‌ها بر اساس برچسب‌ها با خیال راحت طبقه‌بندی کنیم و از آن‌ها استفاده کنید تا از احتراق احتمالی جلوگیری شود.

خاموش‌کننده‌های آتش‌نشانی؛ مهم است که اطمینان حاصل شود که محیط کار از نوع و تعداد مناسبی از خاموش‌کننده‌های آتش در مکان صحیح قرارگرفته است و همه افراد منطقه می‌دانند که در صورت اضطراری چگونه می‌توانند به‌درستی کار کنند. هرگز دستگاه‌های اسپرینکلر یا آشکارسازهای دود را مسدود نکنیم. اسپرینکلر ها، دکتورهای دود و آشکارسازها در صورت بروز آتش‌سوزی نقش بسیار مهمی دارند.

اطمینان از وجود صحیح راهبردهای محافظت در برابر آتش ، به حداقل رساندن خطر آتش‌سوزی بسیار مهم است. بااین‌وجود، مهم است که اطمینان حاصل شود که در صورت بروز آتش‌سوزی، برنامه‌های صحیح ایمنی و مهار آتش اجراشده‌اند.

برنامه‌های ایمنی و مهار آتش؛ یک برنامه ایمنی و مهار آتش مناسب باید با جزئیات طراحی شود و به‌راحتی در دسترس همه کارمندان و هر کس که ممکن است نیاز به دانستن اطلاعات در محل کار داشته باشد قرار گیرد. برای ایجاد یک برنامه دقیق و کامل باید موارد زیر را رعایت کنیم: یک محل ملاقات ایمن که به‌اندازه کافی دور از ساختمان است برای استقرار کارمندان تدارک دیده شود. درهای اضطراری بایستی به‌راحتی باز می‌شوند. فعال شدن روشنایی اضطراری در صورت نیاز به خاموش شدن برق الزامی است. مسیرهای خروج اضطراری به‌طور واضح مشخص‌شده است که سریع‌ترین و مستقیم‌ترین خروج از ساختمان را فراهم می کند. تعداد مناسب خروج اضطراری برای همه افراد موجود ص۵

# عوامل کلیدی فساد اداری و راهکارهای مبارزه با آن

**پوهنیار شریف حسین حیدری**

فساد اداری و هر نوع انحراف در رفتار اجتماعی و اداری، در تعامل سه عنصر اساسی اتفاق می‌افتد، گلوگاه‌ها و عوامل اصلی فساد در جامعه را نیز باید در بستر و زمینه این سه عنصر شناسایی کرد:

۱- حاکمان و دارندگان قدرت و نفوذ.

۲- مردم و وضعیت فرهنگی، ارزشی و رفتاری حاکم بر جامعه.

۳- سیستم حکومتی و اداری تنظیم‌کننده روابط میانراه‌های ایجاد تقوا و خودکنترلی در آموزه‌های دینی.

با مطالعه در آموزه‌های دینی، راه‌های زیادی برای ایجاد و توسعه تقوا و خودکنترلی در افراد و انسان‌ها قابل استخراج است که برخی از آنها به‌اختصار معرفی می‌شوند.

۱- اصلاح جهان‌بینی افراد جامعه: حساب‌دهی و پاسخ‌گویی، باعث کاهش درجه و میزان فساد می‌شود. این امر ممکن است به روش‌های مختلفی به‌دست آید که مهم‌ترین و تأثیرگذارترین روش، ایجاد خودکنترلی و خودنظارتی در افراد است.

در یک جهان‌بینی و نگرش سکولاریستی، معمولاً حساب‌دهی و پاسخ‌گویی از طریق بررسی‌ها و کنترول‌های اعمال‌شده بر افراد از طرف جامعه، جهت دستیابی به نتایج مشخصی چون امانت‌داری، کارایی و برابری به‌دست می‌آید.

این نوع از پاسخ‌گویی، بسیار پرهزینه است و کاستی‌های فراوانی دارد که نمونه‌های زیادی از آن را می‌توان در مشکلات اجتماعی و اقتصادی که جوامع مدرن با آن مواجه‌اند، آشکارا مشاهده کرد.

با مراجعه به آموزه‌های دینی درمی‌یابیم که بالاترین شکل پاسخ‌گویی، پاسخ‌گویی است که از درون افراد ناشی می‌شود، نه از بیرون و جامعه. برای رسیدن به این نوع از پاسخ‌گویی درونی، باید جهان‌بینی افراد را توسعه داد؛ تا جایی‌که از مرز زندگی این‌دنیایی بگذرد و زندگی اخروی و جاودانی را نیز شامل شود. این در واقع مشخصه اصلی جهان‌بینی اسلامی است. آموزه‌های اسلامی، راهنمای انسان‌ها در تمامی ابعاد زندگی سیاسی، اقتصادی، اجتماعی، فرهنگی، زیست‌محیطی و... است و در ترغیب و تحریك انسان‌ها به انجام کارهای پسندیده و روی‌گردانی از کارهای ناپسند بسیار قوی‌تر و نیرومندتر از هر جهان‌بینی غیردینی می‌باشد؛ زیرا: در نتیجه، بر اساس آموزه‌های دینی، نخستین گام برای مبارزه با فساد اداری و دیگر بیماری‌های اجتماعی مدرن، تزریق جهان‌بینی صحیح در جامعه است؛ همچنین عمل به اصول اسلامی به‌طور کامل، برای هدایت انسان به سمت صلح و شکوفایی حقیقی باید تشویق شود. پاسخ‌گویی و مسئولیت پذیری که از درون انسان بجوشد، مؤثرتر و ماندگارتر از پاسخ‌گویی است که از نظارت بیرونی ناشی می‌شود.

۲- ایمان به معاد و حساب دهی در آن:

ایمان و پایبندی به آموزه‌های اسلامی، عامل بسیار مهمی در ایجاد خودکنترولی در انسان است. هرچه ایمان به حقایق دینی و باورهای اسلامی قوی باشد، پایبندی به نظام ارزشی ـ که مراقبت درونی جزئی از آن است ـ نیز بیشتر، و در نتیجه خودکنترولی، شدیدتر می‌گردد.

در میان باورها، ایمان به معاد، عامل بسیار قوی در پایبندی به ارزش‌ها، و در نتیجه خودکنترولی است. باور به اینکه فردای قیامت از همه اعمال سؤال خواهد شد و انسان مسئول اعمال و رفتارهای خویش است، همچنین باور به حسابرسی و پاداش و کیفر الهی، تأثیری شگرف بر انسان می‌گذارد و او را خودکنترول می‌سازد. اعتقاد به معاد، مسئولیت‌آفرین است؛ تقوا و خودکنترولی را در افراد پرورش می‌دهد و از آلوده شدن آنها به حرام و معصیت الهی جلوگیری می‌کند .

۳- اهتمام به انجام فرایض و ترك محرمات:

ارزش هر انسان، در قانونمندی او نهفته است و هرگونه تخلف و قانون‌شکنی، شخصیت و ارزش انسان را پایین می‌آورد. بنابراین، انسانی باتقواست که خود را در عمل به قوانین اسلام متعهد کرده و از قانون‌شکنی مبرا باشد؛ به‌عبارت‌دیگر، از تمام محرمات پرهیز کند و به همه فرایض و واجبات عمل نماید. پیامبر اکرم(ص) در این زمینه می‌فرماید: ترجمه:«عابدترین مردم کسی است که به فرایض دینی عمل کند، و باتقواترین اشخاص کسی است که از تمام محرمات دوری گزینند.» (مجلسی، ۱٤۰۲ق، ج ۱۱، ص ۱۹۵، ح ۱٤). بنابراین یکی از شیوه‌های رسیدن به تقوا، محترم شمردن قوانین اسلام است تا در سایه آن، حقوق خدا و مردم را به رسمیت بشناسیم و از حدود مقرر تجاوز نکنیم.

۴- توجه به حضور خداوند در هستی:

یکی دیگر از شیوه‌های کسب تقوا، توجه به حضور خدا در هستی است. هر انسان مسلمان وظیفه دارد که خدا را همه‌جا حاضر و ناظر خود بداند. در این صورت است که از هرگونه خلاف و گناه مصئون می‌ماند. قدرت ایمان به خدا و یاد او در ریشه‌کن ساختن گناه، از همه قدرت‌ها نیرومندتر است. از همین روست که در آیات و روایات بر نقش توجه به حضور خداوند در بازداری از گناه و انحراف بسیار تکیه شده است.

نتیجه‌گیری

مبارزه با فساد و انحرافات اجتماعی، یکی از اصول و اهداف اساسی دین مبین اسلام است. بر این اساس، آموزه‌های دینی، سرشار از راهکارها و راه‌حل‌های پیشگیری از بروز فساد در جامعه و مبارزه با آن می‌باشد؛ چنان‌که پیامبران الهی و پیشوایان دین، در عمل نیز اهتمام جدی به این امر داشته‌اند. به‌اقتضای چارچوب نظری تحقیق که «تئوری محدودیت‌ها» است، راهکارهای عرضه‌شده، معطوف به عوامل گلوگاهی فساد اداری‌اند. بر این مبنا، مشخص شد که فساد اداری، حاصل وجود و تعامل عواملی چون انحصارطلبی، پنهان‌کاری و عدم شفافیت، فقدان شایسته‌سالاری و مسئولیت اجتماعی شهروندان است.

**منابع**

**۱.ابن منظور، محمدبن المکرم المصری، لسان العرب، بیروت، دار صادر، ۱٤۱۰ق.**

**۲.ابن‌شعبه، تحف‌العقول عن آل‌الرسول، قم، چاپ علی اکبر غفاری، قم ۱۳٦۳.**

**۳.امیری، علی‌نقی ۱۳۸۳، نگاهی جامع به خود کنترولی در سازمان، فرهنگ مدیریت، شماره ۷.**

# د بیان آزادي او رهبري اخلاق

**شبیر راحل**

یوه ورځ صحابه کرامو د بني حنیفه قبیلې مشر او د اسلام له ټولو ستر دښمن (ثمامة بن أثال) د نجد په سیمه کې ونیو، مدینې ته یې را وست او د نبوي جومات په ستنه پسې یې ټینګ وتاړه .

کله چې رسول الله د اسلام هغه ستر دښمن په خپله مخه کې ولید، ګواښ یې ورته ونه کړ، بلکې د سترو اخلاقو خاوند په ډېره نرمۍ ترې وپوښتل: ثمامه څنګه یې؟

هغه ورته وویل: ښه یم، که مې ووژنې، نو قاتل به ووژل شي او که را باندې احسان وکړې، بدله به یې درکړم او که هرڅومره مال هم غواړې دربه یې کړم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم چپ پاتې شو .

په سبا یې بیا ترې وپوښتل : ثمامه پرونی ځواب ورکړ. رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته امر وکړ چې ثمامه ته ښه خواړه ورکړئ او هره ورځ سوارلۍ ورباندې ووینئ چې ډاډه شي.

په دریمه ورځ یې بیا ورته وویل: ثمامه څنګه یې؟

هغه د لومړۍ ورځې ځواب ورکړ.

رسول الله وفرمایل: ثمامه خوشې کړئ، موږ نه مال غواړو او نه هم د ده احسان ته اړتیا لرو.

کله چې یې ثمامه له بنده خوشې کړ، هغه نږدې اوبو ته ورغی، غسل یې وکړ، بېرته نبوي جومات ته راغی، د بشریت د ستر ژغورونکي په مخ کې ودرېد او د شهادت کلیمه یې وویله.

بیا یې رسول الله ته وویل: اې د الله رسوله!

قسم په الله چې په دنیا کې ستا مخ راته تر ټولو انسانانو بد ښکارېده، خو اوس له ټولې دنیا راته محبوب یې.

قسم په الله چې ستا له دین څخه مې له ټولو دینونو ډېر نفرت کېده، خو اوس راته اسلام له ټولو دینونو غوره دین دی.

قسم په الله چې مدینه مې له ټولو ښارونو بده ایسېده، خو اوس تر ټولو ښارونو ورسره مینه لرم.

آیا د اسلام په دومره سخت دښمن کې دومره ستر تغیر د توري زور و او که د رسول الله د نېکو اخلاقو، مینې او حکمت ؟

هغوی چې وایي اسلام د توري په زور مخکې تللی ، لږ دې تاریخ هم وګوري او تشې اپلتې دې نه وایي.

# د سلطان محمود غزنوي هوښیار غلام

**حسان مجاهد**

ایاس د سلطان محمود غزنوي یو هوښیار غلام و او د نورو زړه ته خورا ور نږدې و. خلګو به سلطان ملامتاوه، چې یو ساده غلام له نورو ولې ډېر درباندې ګران دی؟

سلطان یوه ورځ وغوښتل چې د غلام پر محبت نیت بدو وګړو ته د غلام هوښیارتیا، وفا او د ګرانښت راز په ډاګه کړي، په دې پار یې یوه ورځ د غلام تر مخ ټول اراکین را وغوښتل، ددوی په مخ کې یې د ملغلرو یو قیمت بها امیل وښینده او زیاته یې کړه: هغه څوک به بریالی وي چې د شیندلي امیل زیاتي ملغلرې ترلاسه کړي. د امیل شوقیانو هر یوه تر خپله وسه د ملغلرو په ترلاسه کولو کې هڅه وکړه. له نندارې وروسته ګوري؛ چې غلام د سلطان تر څنګ له ملغلرو غافله غوندې ولاړ دی.

خلګو سلطان ته وویل: موږ درته پخوا هم ویلي و، چې غلام ناپوه او ساده دی. سلطان له غلام څخه وپوښتل: تا ولې ملغلرو ته هیڅ لېوالتیا ونه ښوده؟ هوښیار ور غبرګه کړه» که زه هم ددوی په څېر د ملغلرو په ترلاسه کولو بوخت شوی وای؛ نو ممکن تا ته د یو څه اړتیا پیدا شوې وای او دخدمت درسره څوک به نه وای، البته زه چې ستا په خدمت کې حاضر پاتې شوم؛ نو ستا د زړه خوښې مې ترلاسه کړه او ستا د خوښې له امله امیل څه، چې د پادشاهي ټولې خزانې مي ترلاسه کړي.داشان یوه ورځ سلطان ته د غلام دا شکایت هم وړاندې شو، چې غلام ستا په نشتون کې هره ورځ الماري ته ورځي او یو شی



ګوري.

سلطان په دې اړه هم غلام وپوښتل.

غلام ورته وویل: په الماري کې مې د تېر وخت یوه جوړه زړې چوټې ېښې دي، زه وخت په وخت هغه ګورم؛ تر څو د تېر وخت بې وزلې او ستونزې رایادې کړم او په موجوده نعمتونو رانه عجب او لویي ونه شي. سلطان خلګو ته وایي: په ما باندې د غلام د ګرانښت راز همدغه دده وفا او هوښیارتیا ده.

پند! دنیوي مینه مو باید د نظام له مصالحو غافله نه کړي، کله چې د اسلام او مسلمانانو په خدمت د رب تعالی رضا خپله کړئ؛ بیا نو د الهي نعمتونو ننداري ته انتظار شئ.

داشان همېشه د تېر وخت ستونزې او ناخوالې هم سترګو ته ږدئ؛ ترڅو پر الهي نعمتونو شکر ګذاره شئ او په موجوده امن، ازادۍ، رنګینیو او خوښیو دوکه نه شئ.

# تحقیقات طب عدلی درافغانستان

**داکتر هدایت الله شیرزاد**

تحقیقات طب عدلی در تمام جهان بر پنج اصل استوار است:

۱: تحقیقات طب عدلی اشخاص زنده

۲: تحقیقات طب عدلی اموات یا اجساد

۳: تحقیقات طب عدلی شواهد و مدارک اثباتیه

۴: تحقیقات طب عدلی دوسیه های جنایی و دیگر اسناد

۵: تحقیقات طب عدلی اهمالات طبی و غفلت وظیفوی داکتران

تحقیقات طب عدلی درافغانستان یکی از اجزا مهم خدمات صحت عامه بوده علاوه از کمک های همه جانبه به مقامات عدلی تحقیقی در کشف جرایم و یک سلسله وظایف مهم را در برابر صحت در بالا بردن کیفیت امور وقایوی، معالجوی و مجادله علیه تروماتیزم و تسممات نیز دارا میباشد.طب عدلی با دریافت علل شرایط اشتباهات تشخیص معالجوی که در حین تحقیقات طب عدلی آشکار میگردد در وقایه و بر طرف ساختن آنها با مقامات صحت عامه کمک می نماید. اشکال و انواع اساسی کمک





های خدمات طب عدلی به صحت عامه بررسی واقعات طب عدلی در کنفرانس های اناتومی وپتالوژیک نه تنها نقایص کلینیکی بخش رادیولوژی (لابراتوار و غیره) بررسی میگردد. بلکه اسناد طبی نیز بررسی میگردد. هدف این بررسی ها در پهلوی بلند بردن کیفیت فعالیت داکتران رشته های مختلف آشکار نمودن نارسایی های سازمان دهی پروسه معالجوی جهت برطرف ساختن آنها میباشد در کنفرانس های کلینیکی و اناتومیک تمام داکتران موسسه صحی مربوط مکلف اند حاضر باشند از نتایج تحقیقات میتواند جهت بهتر ساختن خدمات وقایوی، معالجوی استفاده نموده مثلاً تحقیقات مرگ های غیر جبری در مورد پرابلم های مرگ ها الی جهت بهتر ساختن خدمات دیس پا نسری مردم استفاده نموده ودیگر اطلاعات را راجع به نقایض کارکرد های معالجوی و تشخیص به مقامات صحت عامه بخش عمده طب عدلی را معاینات متضررین، متهمین، مظنونین در وقایع مختلف تشکیل میدهد. در این تحقیقات متخصص باید درمورد نسایی ولادی، جراحی، تراماتولوژی، عقلی عصبی وغیره معلومات کافی داشته باشد زیرا برای مطالعه دوسیه مرضی کارت پولی کلینیک، رادیوگرافی وغیره اسناد طبی که راجع به مشخصات و حجم **ص۵**

**قالین های افغانی ...**

می کنیم و تولیدات قالین کشور را به جهان نشان می دهیم چون قالین افغانی هم از نگاه کیفیت عالی برخورداراست و هم از نگاه صحی بودن برای انسان مضر نیست.»

دولت و سکتور خصوصی رقیب یکدیگر نیستند،بلکه هماهنگ با هم باید برای نیل به اهداف مشترک کار کنند .بدون تردید قرار گرفتن کشور ما به صنعتی شدن در شرایط کنونی اگر ناممکن نباشد بسیار مشکل هم نخواهد بود. زیرا با پیروزی امارت اسلامی افغانستان امنیت و ثبات در کشور تامین شده و هیچگونه تشویش برای سرمایه گذاری نیست.مسئولین امارت اسلامی افغانستان از سکتور خصوصی ،پیشه وران وصنعتکاران می خواهد که با ارائه طرح های سازنده زمینه را برای تولیدات و صادرات بیشتر فراهم سازند.عبدالسلام جواد آخندزاده سخنگوی وزارت صنعت و تجارت طی پرسشی گفت:« صادرات ما خیلی خوب بوده و همچنان قرار است نمایشگاه های بزرگی در ترکیه،روسیه و در امارت متحد عربی برگزار شود که در هر سه این کشور ها خوشبختانه بخش قالین های افغانی سهم خواهد داشت.»به نظر آگاه هان امور اقتصادی، هرگاه امارت اسلامی افغانستان سرمایهگذاری روی تولید قالین افغانی را افزایش دهد،هم زمینه کار برای خانواده ها فراهم می شود و همچنین عواید ملی کشور تقویت میگردد.

ظهیرعزیزی

**مهـــــار آتش .....**

در ساختمان که بتوانند سریعاً ازآنجا خارج شوند. موانع را در مسیرهای گذر منتهی به همه مسیرهای فرار پاککنیم و هیچ مانعی در این راهها باقی نگذاریم.

بسیار مهم است که اطمینان حاصل شود که همه دستگاههای آتشنشانی و اخطار کاملاً کاربردی هستند و تجهیزات مناسب آتشنشانی بهطور صحیح نصب، آزمایش و نگهداری میشوند تا در صورت وقوع آتشسوزی از امنیت ایمن استفاده شود. کلیه کارکنان باید در مورد خطرات آتشسوزی آموزشدیده و آگاه باشند و حداقل یک مانور آتشنشانی در سال باید انجام شود.در ضمن آموزش و آگاهسازی کارکنان در مورد خطرات آتشسوزی، اطمینان از استفاده تجهیزات مناسب و استفاده از تاکتیکهای پیشگیری، ساختمان باید مطابق با تمام استانداردهای بهداشتی و ایمنی باشد. کلیه ساختمانها دارای مقررات خاصی هستند که باید رعایت شود، بهگونهای که میتوان محل کار را ازنظر آتش امن دانست.نصب دربهای آتشنشانی و درهای آتش؛ یک ساختمان امن در برابر آتش همیشه تعداد صحیح از خروجیهای آتشنشانی کاملاً کاربردی و درهای خروج آتش را برای اطمینان از فرار سریع و آسان و درعینحال جلوگیری از گسترش آتش همیشه در اختیار خواهد داشت. در حادثه ناگوار آتشسوزی، همیشه ایدئال است که آسیبهای ساختمان پسازآن را به حداقل برسانیم. این امر میتواند با تفکیک مناسب مسیرهای فرار، مناطق مشترک و مسیرهای فرار انجام شود. بهراحتی باور میشود که فقط درها و دیوارهای چوبی جامد میتوانند این کار را بهدرستی انجام دهند. در نتیجه ، آتشسوزی میتواند خطر عمدهای را برای مشاغل ایجاد کند. میتواند به کارمندان یا مراجعهکنندگان و اربابرجوعان آسیب جدی وارد نماید و باعث آسیب دیدن یا تخریب ساختمانها، تجهیزات و سهام شود. در نتیجه، آموزش حرفهای ایمنی در برابر آتش ، برای کارکنان خود یا کارمندان منتخب ضروری است. همچنین اطمینان حاصل شود که آنها دانش لازم را برای پاسخگویی ایمن و مؤثر در صورت بروز آتشسوزی داشته باشند.

**د ریاست الوزراء کفیل ...**

د چارو د لاښه والي په موخه د استخباراتو عمومي رئیس ته لازمي سپارښتنې هم وکړې.همدارنګه په یوه بله جلا کتنه کې د مرکزي دارالافتاء رئیس شیخ نورالله منیر د ریاست الوزراء کفیل ته د خپل کاري راپور د وړاندې کولو پر مهال وویل: دې اداري خپل کارونه د پخوا په پرتله څو برابره ګړندي کړي او په وینا یې: پر سلګونو مهمو موضوعاتو کار شوی دی. نوموړي ډاډ ورکړ، چې د متخصصینو او کارپوهانو له لوري د شریعت په رڼا کې پر اړوندو مسایلو او موضوعاتو کار روان دی.مولوي عبدالکبیر د مرکزي دارالافتاء ریاست له کړنو خوښي وښوده وې ویل: یاده اداره دې په خپلو کارونو کې د اصولو او معیارونو پلي کولو ته جدي پاملرنه وکړي..

**د بامیانو له تاریخي...**

ډېر ښه ځای دی.))یو شمېر نور سیلانیان وایي: لا هم د سیلانیانو لپاره اړینې آسانتیاوې نهدي برابرې شوي او غوښتنه کوي چې دې برخې ته جدي پام وشي.د سمنګانو اوسېدونکی محمد عوض وایي: ((د ښارونو په پرتله د توکو بیه لوړه ده او تر اوسه معیاري ځایونه او هوټلونه نهدي جوړ شوي او ځینې ځایونه بیارغونې ته اړتیا لري.))د کابل اوسېدونکی مصطفی زیاتوي: ((په بند امیر کې چې ځینې ځایونه بیارغونې ته اړتیا لري، زموږ غوښتنه دا ده، چې دغه چارې تر سره کړي، ترڅو خلکو ته آسانتیاوې برابرې شي.)) بند امیر پارک په ۴۱ زره هکتاره ځمکې مساحت سره، د ۱۳۸۸ کال په لومړیو کې د افغانستان د لومړي ملي پارک په توګه وپېژندل شو.

وپېژندل شو.

**د کونړ د نورګل ولسوالۍ...**

لاسه ورکوي.انعام الله زیاتوي: ((سړکونه هم خراب دي ډېر کله چې عاجل ناروغان وي، نو بیا یې پر اوږه تر سړکه باساوو له شپږ ساعته مزل وروسته روغتیایي مرکز ته رسول کېږي.)) په همدې حال کې د کونړ روغتیایي چارواکي هم په نورګل ولسوالۍ کې د روغتیایي خدمتونو د کموالي په برخه کې شته ستونزې مني او د حل ډاډ یې ورکوي.د دغه ولایت د عامې روغتیا رئیس مظفر مخلص وایي ،چې په کونړ کې یې د روغتیایي ستونزو د حل په برخه کې هلې ځلې ګړندۍ کړې ،چې له مخې به یې تر ډېره په نورګل او نورو ولسوالیو کې د خلکو روغتیایي ستونزې را کمې شي.مخلص زیاتوي: ((ځومره امکانات چې زموږ په لاس راغلي ، هغه مستحق خلک چې دي هغوی ته مو په خپلو سیمو کې روغتیایي مرکزونه پلان کړي، دغه راز ګرځنده روغتیایي ټیمونه هم هره ورځ فعالیت ترسره کوي او لا په هڅه کې یو چې شته روغتیایي ستونزې حل شي.))کونړ د هیواد په ختیځ کې پروت هغه ولایت دی، چې زیاتره اوسېدونکي یې په غریزو سیمو کې اوسېږي، چې د ژوند د نورو آسانتیاوو پر نشت سربېره روغتیایي برخه کې هم له ستونزو سره مخ دي.دوی د روغتیایي مرکزونو د زیاتوالي، پوهنې، بیارغونې او نورو اړینو برخو کې له حکومت او نورو مرستندویو ادارو د همکارۍ غوښتنه کوي.

په شهر نو پارک کې د ښاري ښکلا دوه....

زینتي ګلانو د ایښودلو لپاره جوړ شوي دي.ښاغلي پټان زیاته کړه ،چې د یادو سمبولونو په جوړېدو سره به دشهر نو پارک نندارچیان ډېر شي او ښاریانو ته به د خوښۍ احساس ورکړي.نوموړي دغه راز وویل، چې د یاد پارک زرغونتیا د پراختیا په حال کې ده او یو شمېر تاسیسات به یې بیا ورغول شي.د شهر نو پارک د کابل یو له مهمو پارکونو څخه بلل کېږي ،چې ( ۹۲۳۴۸ ) متره مربع مساحت لري او ډېر ژر به داغه پارک په یوه ښکلي تفریحي او مناسب ځای بدل شي.

**د پولو دلا خوندیتوب لپاره...**

وېشل شوي دي.))په همدې حال کې د پوځي چارو یوشمېر کارپوهان وایي ،چې اسلامي امارت باید د انساني قاچاق، وسلو او نورو توکو د مخنیوي لپاره اړین ګامونه پورته کړي، خپلې پولې پیاوړې او مسلکي کسان وګوماري.د پوځي چارو شنونکي سرور نیازی وایي: (( موږ د پولو په کنټرول سره هغه پلمه چې ګواکې افغانستان څخه نشهيي توکي قاچاقېږي، یا ترهګر تګراتګ کوي، لهمنځه وړی شو.))په ورته مهال د پوځي چارو یو بل شنونکی یوسف امین ځاځی وایي: د پولو ساتنه د ملي دفاع وزارت مسئولیت دی او په وینا یې، دا یې باید لومړیتوب وي.ده وویل: (( د خپلو پولو او سرحدونو د ساتنې لپاره باید هوایي ځواک، رادار او پیاده قطعات ولرو، څو وکولای شو چې خپلې پولې وساتو.)) بله خوا د پوځي چارو کارپوه طاهر یرغل وایي ،چې له پولو ساتنه د حکومت مسئولیت دی. ده وویل: ګڼشمېر هیوادونه د خپلو پولو ساتنې لپاره ډېر امکانات لري، خو په وینا یې: اوسنی امکانات بسنه نه کوي او باید نور ځواکونه هم وګومارل شي.د یادونې وړ ده چې د ملي دفاع وزارت له لوري لېږل شویو موټرو کې څلور ((لنډکروزر))، درې ((ټویوټا)) او یو ((بایفور)) شامل دي.

**پر فلسطین د اسرائیلي ...**

لوېدیځې غاړې په مرکزي برخه رامالله کې د محمدحسین په نامه ۲۵کلن ځوان د اسرائیلي اشغالګرو له لوري شهید شوی دی.یاد وزارت همداراز زیاته کړې ،چې څلور نور فلسطینیان د اسرائیلي ځواکونو له لوري په سر او سینه کې په ډزو سره شهیدان شوي دي.د اسرائیلي اشغالګرو له لوري په شویو بریدونو کې ۲۷ فلسطینیان ټپیان شوي هم دي، چې د اتو کسانو روغتیایي وضعیت یې د اندېښنې وړ ښودل شوی دی

**کار ساخت یک ....**

آبادی، ترقی، بهبودی و بهسازی و بازسازی وطن، گامی گذاشته میشود. این بسا جای افتخار است.))سرپرست وزارت زراعت همچنان از سایر تاجران ملی خواست که در پروژههای عام المنفعه، درکنار حکومت سهم گرفته و در داخل کشور سرمایه گذاری نمایند تا زمینههای اشتغال برای جوانان فراهم گردد.با این حال حاجی عبدالمؤمن ضیایی، رئیس شرکت اعمارکننده این چهارراهی میگوید: (( این چهارراهی به نام چهارراهی ضیایی پترولیم، تا سه ماه آینده به شکل استندرد و اساسی تکمیل خواهد شد.))از سویی هم باشندگان ولسوالی اندخوی با استقبال ازاعمار این چهارراهی، میگویند که تطبیق چنین پروژههای انکشافی در مناطق شان، از یک سو سبب ایجاد فرصتهای کاری بیشتر برای مردم گردیده و ازسوی دیگر باعث انکشاف و زیبایی بیشتر شهر میشود.حاجی حمیدالله، یک تن از باشندگان ولسوالی اندخوی چنین میگوید: (( هرجا که امنیت باشد، طبعاً آنجا کار هم صورت میگیرد. وتاجران هم سرمایه گذاری میتوانند. من از تمام تاجران ملی کشور خود تقاضا میکنم که هر کدام به نوبۀ خود، در قسمت بازسازی و آبادی وطن سهم فعال بگیرند.)) چندی قبل نیز کارساخت یک چهاراهی به هزینۀ ۲۰ میلیون افغانی از سوی یک شرکت خصوصی و همچنان کار سه پروژه انکشافی عام المنفعه به ارزش بیش از ۴۱ میلیون افغانی، از بودجه شاروالی این ولسوالی آغاز گردیده بود تاکنون جریان دارد.

**ملګرو ملتونو د ...**

پر دې پوهېږي چې یوازې بشردوستانه مرستې به د منځمهالې او اوږدې مودې لپاره د افغانانو د لویې کچې او ډېرېدونکو بشري کړاوونو د حل لپاره بسنه ونه کړي.د دغه ستراتیژیک چوکاټ له مخې به د خورا زیانمنو کسانو د ماشومانو او ځوانانو، داخلي بېځایه شوو،راستنیدونکو، کډوالو او اقلیتونو اړتیاوو او حقونو ته لومړیتوب ورکول کېږي.

**تحقیقات طب عدلی...**

کمک طبی معاینه شونده گان که قبل از معاینات طب عدلی انجام داده شده است این معلومات ضروری میباشد به اساس این مطالعات میتوان راجع به نقایض کمک های طبی در پولی کلینیک اتاق عاجل، شفاخانه، منزل و همچنین عدم به موقع بستر شدن مریض نقایض معاینات ابتدایی اهمالات و غلطی های را که در حین انتخاب تداوی رخداده پی برد اهمیتی بسزای را فعالیت های تخصص طب عدلی حین بررسی واقعات و دوسیه های تخلفات مسلکی کارکنان طبی خصوصاً در موارد اهمالات طبی در کمک به صحت عامه کسب مینماید که در این موارد کمیسیون عدلی طبی به اساس مطالعه اسناد طبی و اظهارات شخص متخلف میتواند فعالیت های پرسونل طبی را بررسی نماید ارقام و معلومات بدست آمده بعد از ارزیابی دقیق اهمالات طبی باید به اطلاع موسسات مربوطه طبی رسانیده شود تا با استفاده از آن تدابیر جهت بلند بردن کیفیت کمک های طبی برای مردم اتخاذ گردد.تشخیص بموقع امراض انتانی و اطلاع آن به مقامات مربوط یک سلسله علایم عمومی موضوع مختص به خود دارد. ولی در بعضی واقعات این اعراض و علایم وصفی نبوده ویا اینکه اصلاً وجود نمی داشته باشد ازین سبب باعث غلطی های تشخیص میگردد که در این واقعات اجساد اشخاصیکه از اثر امراض انتانی فوت نموده اند به طب عدلی راجع میگردد. در صورتی که در حین تحقیقات طب عدلی جسد علایم و شواهدی بدست آید که علت مرگ شخص را از سبب امراض انتانی مدهش نشان بدهد. ( اکسپرت ) تحقیقات طب عدلی تمام تدابیر را به منظوروقایه شیوع این مرض از تمام طرق ممکنه اتخاذ مینماید. راجع به نتایج مقدماتی تحقیقات طب عدلی اکسپرت باید به امر موسسه طبی و مقامات صحت عامه ( به سلسله مراتب ) اطلاع بدهد که در مرحله بعدی تمام تدابیر وقایوی طبق پلان تدابیر ضد اپی دیمیک در ناحیه شهر و حتی مملکت گرفته میشود. در حین تحقیقات اجساد یکه به صورت آنی فوت نموده اند اکسپرت تحقیقات طب عدلی باید همیشه امکانات حصول مرگ را از سبب امراض انتانی خصوصاً امراض مدهش مدنظر داشته باشد تا در صورت موجودیت این نوع امراض تدابیر وقایوی که برای امراض قرنتینی وضع شده بالای پرسونل تطبیق گردد.

# Hewad Daily

سه شنبه د ذوالحجة الحرام ۱۶مه ۱٤٤٤ق کال د ۱٤۰۲ ل کال د چنګاښ ۱۳ مه د 2023 م کال دجولای ۴ مه

د ورځپانو رئیس : م محمد ابراهیم نبیل
موبایل : ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
آمر او مسئول مدیر : عطاء الله مبارز
موبایل: ۰۷۷٤۳۱۸۹۰۲
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوې ودانۍ
د اړیکو شمېره: س۱۰ ۲۵۲۶۳ - ۰۲۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیواد ورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب: سایټ www:dailies.gov.af/hewad
د شکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳-۰۲۰۲۱۰۶۹


# تکمیـل ۸۰ درصدی کار فاز اول کانال قوش‌تپه



مسئولین در اداره انکشاف ملی از تکمیـل ۸۰ درصدی کار فاز اول کانـال قوش‌تپه در ولایت بلخ خـبر داده می‌گویند که به زودی این بخش تکمیل خواهد شـد.اکبر جاهد، مسئول بخش مطبوعات اداره انکشاف ملی، روز (یکشـنبه ۱۲ سرطان) به رسـانه ها گفت ،که ۸۰ درصد کار فـاز اول کانـال قوش‌تپه تکمیـل شـده و بـه زودی بیسـت درصد باقـی مانده نیز ختـم می‌شـود.به گفتـه‌ی او، فـاز اول کانـال قوش‌تپه ۱۰۸ کیلومترطـول داشـته کـه از دریای آمو آغاز و در ولسـوالی دولت آباد ختم می‌شود.

جاهـد افزود، که فـاز دوم از ولسـوالی دولت آبـاد بلخ آغاز و پس از گذشـتن از ولسـوالی آقچـه شـبرغان به ولسـوالی اندخوی فاریاب ختم می‌شـود کـه ۱۷۷ کیلومتر طـول دارد.

مسـئول بخش مطبوعات اداره انکشـاف ملی گفـت که ، فاز سوم پروژه کانال‌های فرعی را در بر می‌گیرد.

با تکمیـل کار این کانال، ۵۸۰ هـزار هکتار زمین در شـمال کشـور به زمین‌هـای زراعتی مبدل خواهد شد.

# د پولو دلاخوندیتوب لپاره د پوځي ګرځندیو موټرو کاروان هرات ته ورسېد

د ملي دفاع وزارت مسـئولین وایي ،چې د دغه وزارت اړوند د پوځي ګرځندیو موټرو لومړی کاروان یې د غبرګولي پـه ۱۴مه یاد ولایت ته لېږل شوي دي.دغه موټر د ګزمې، له پولو د سـاتنې او د پوله‌سـاتو ځواکونـو د سـتونزو د حـل په موخـه د هـرات ۲۰۷ الفـاروق قول‌اردو ته سـپارل شـوي دي.د ملي دفاع وزارت ویاند عنایت‌الله خوارزمي رسـنیو ته ویلي، چې د ګرځندي تګ دغه موټر یې یوازې د قول‌اردوګانو، لېوا او نورو پوځي قطعاتـو اړتیاوو ته پـه کتو دغه ولایت ته استولي دي.ده وویل: (( د ملي دفاع وزارت تشکیلات ډېر لوی دي. په زونونو، قول‌اردوګانو او ولایتونو کې لېوا دي. څنګه مو چې لېږلي، هغسې نه دي؛ یوشمېر موټر هرات او نورو ځایونو ته د اړتیا له مخې

۵مخ



# کار ساخت یک چهار راهی به ارزش ۲۰ میلیون افغانی در اندخوی فاریاب آغاز شد

کار سـاخت یک چهـار راهی در ولسـوالی اندخوی ولایت فاریاب با حضور مولـوی عطاءالله عمری، سرپرست وزارت زراعت، آبیاری و مالداری افتتاح گردید.

اداره شـاروالی ایـن ولسـوالی بـا همـکاری مالـی یـک شرکت خصوصی با نام ((ضیایی پترولیم)) کار این چهارراهی را آغاز کرد.

دامـلا عتیق‌الله کریمی، شـاروال ولسـوالی اندخـوی می‌گوید، که هزینـه ایـن پـروژه، بیـش از ۲۰ میلیـون افغانی برآورد شـده و کار اعـمار آن تا سـه ماه آینـده تکمیل خواهد شد.

شاروال اندخوی افزود که در سال روان این دومین چهارراهی در این ولسوالی است که با همکاری مالی تاجران ملی کارش آغاز شده و قرار اسـت که دو چهارراهی دیگر نیز در این ولسوالی ساخته شود.

اوی افـزود: (( اندخـوی یـک ولسوالی بزرگ اسـت، نفوس هم زیاد دارد، اما بازارش بسـیار خورد اسـت. به ایـن خاطر مـا تصمیم گرفتیـم که در چهـار طرف بازار، چهارراهـی اعـمار کنیـم که هر چهارراهـی خودش بـازار خواهد شد.))

مولوی عطاءالله عمری، سرپرسـت وزارت زراعـت، آبیاری و مالداری نیز با استقبال از سهم گیری تاجران ملـی در بازسـازی و انکشـاف کشـور، گفت، که زمینـۀ خدمت برای تاجران ملی و سرمایه‌گذاران مسـاعد گردیده تا آنان از امکانات دست داشته شان، در راه‌های نیک و آبادی کشور کار بگیرند.

اومی گوید: ((خوشحالیم که امروز به یکی از ولایت‌های افغانسـتان و در یکـی از ولسـوالی‌های آن قرار داریم که به‌خاطر

ص۵



# پر فلسطین د اسـرائیلي اشغالګرو هوایي بریدونو کې ۱۰ تنه شـهیدان شوي او ۲۷ نور ټپي شوي

فلسطیني چارواکي وایي، چې د اشغال شوې لوېدیځې غاړې شـمال جنین ښارد کډوالو پر کمپ د اسرائیلي اشـغالګرو پـه هوایي بریدونـو کې ۱۰ فلسـطینیان شـهیدان شـوي دي.د فلسـطین د اوسېدونکو او چارواکو په وینا: اسرائیلي ځواکونو وړمه شپه پر جنین ښـار لـس هوایـي بریدونه وکـړل، چـې لـه امله یې یوشمېر ودانۍ هم نړول شوي دي.په ورته مهـال د اسرائیلي ځواکونو زغره‌والـو موټرو او ځواکونو هم د جنین ښـار کډوالو کمـپ کلا بند کړي او سرکونـو او ودانیو ته یې زیانونه اړولي دي.

بله‌خـوا د فلسـطین د روغتیا وزارت ویـلي ،چې د اشـغال شوې...

۵مخ



# پـه بنـــد امـــیر کې ســیلانیانو ته آسانتیاوې برابرېږي

د اطلاعاتـو او فرهنګ وزارت سرپرسـت پـرون د بامیانـو د اطلاعاتـو او فرهنـګ لـه نـوي رئیس سره پـه کتنه کې د سیلانیانو لپاره د لازمو آسانتیاوو په برابرولـو،د تاریخي آثارو د سـاتنې او کلتوري ارزښتونو په اړه خـبرې وکړې. په دغې کتنه کـې د اطلاعاتـو او فرهنـګ سرپرسـت وزیـر بامیـان یو لرغوني ولایت یـاد کړ او ویې ویل، چې د نومـوړي ټاکنه یې هـم د چارو د ښـه سـمون او پرمختـګ په موخـه کړې ده. نوموړي په دغـه ولایت کې د تاریخـي آثارو د سـاتنې، د بند امیر سـیمه کې د سیلانیانو لپاره د اړینو آسانتیاوو د برابرولو او په یاده سیمه کې د دوو هوټلونو د جوړولو ژمنه وکړه.



# ۳۳ تنه په ننګرهار کې له حرفوي زده‌کړو فارغ شول

د ننګرهار د کار او ټولنیزو چـارو ریاسـت مسـئولین وایـي ،چې پـه دې ولایت کـې د خیاطـۍ لـه حرفي څخه ۳۳ کسـان فارغ او د خیاطۍ اړوند کاري وسایل پـرې وېشـل شـوي دي.د ننګرهـار د کار او ټولنیزو چارو رئیس فریدالله حقاني وایي، چې د دې ریاسـت په چوکاټ کـې د افغانسـتان د یتیـم پالنـې موسسـې په مالي ملاتړ د جلال‌اباد ښـار اوومه ناحیه کې ۳۳ کسـان د خیاطـۍ له حرفـې فارغ او د جامو ګنډلو ماشـینونه او نور اړین وسـایل ورکړل شـوي دي.حقاني لـه نورو موسسـو او خیریه بنسټونو وغوښـتل چې د فنـي او حرفـوي زده‌کړو پـه برخه کـې خپل فعالیتونـه پراخ کړي، ترڅـو دې برخه کې مسـلکي او فنـي کارګـر زیـات شي.پـه ورتـه مهال د افغانسـتان د یتیـم پالنـې موسسـې رئیـس صـادق سـاپي د کار او ټولنیـزو چارو رئیس تـه ډاډ ورکړ، چـې دوی بـه د فنـي او حرفوي زده‌کـړو په برخه کـې خپل خدمتونـه پراخه کـړي او خپـل فعالیتونـه بـه د جلال‌آبـاد پـه ګډون لرې پرتو ولسـوالیو ته هم وغځوي.



# په امریکا کې د وسلوال برید له امله ۳۰ تنو ته مرګ ژوبله اوښتې

د امریکا پولیسـو په ډاګه کړې؛ د یکشنبه پر سـهار د مریلند ایالت د بالتیمور ښار اړوند په یوه ډلهییز برید کې دوه کسان ووژل شول او ۲۸نور ټپیان شوي، چې نیمایي یې ماشومان دي.درویترز د خرګندونو له مخې؛ چارواکو د دغه وسلوال تاوتریخوالي د انګېزې په اړه، چې د سویلي بالتیمور په بروکلین هومز سیمه کې رامنځته شوي؛ څه نه‌دي ویلي.په ډزو کې دوه کسـال وژل شـوي، چې یوه ۱۸ کلنه ښځه او یو بل ۲۰ کلن سړی دی.د بالتیمور د پولیسـو د څانګې چارسـمبالي ریچـارد ورلي ویلي: دوی اوس هم د قربانیانو د عمرونو د تائید هڅې کوي؛ خو له ۲۸ ټپي شویو کسانو څخه شاوخوا ۱۴ یې له ۱۸ کلونو لږ عمر لري.ریچـارد ورلي وایي: پولیس د خو شکمنو کسانو په لټه کې دي او له خلکو یې وغوښتل، چې د مرسـتې لپاره دې پلټونکیو ته د عاملینو د ورپېژندلو په اړه که موندنې یا ویدیویي معلومات لري؛ وړاندې کړي.نوموړي ویلي: موږ ډاړه یو، چې په دې برید کې له یوه څخه ډېر کسان ښکېل وو. موږ نه پوهېږو،چې دشکمنو کسانو شمېر څومره دی.سیمه ییزو رسنیو راپور ورکړي، چې د بروکلین د ورځې په دې‌ننداره کې‌سلګونو خلکو ګډون کړی‌و،چې‌په کې‌آس ځغلونه،نڅا او د څښاک توکي هم وو.



# جاپان افغانانو ته د بورسونو ورکول پیل کړل

پـه افغانسـتان کـې د جاپان سـفارت د یکشـنبه په ورځ اعلان وکـړ، چې افغان محصلینو ته به د ماسـترۍ او دوکتورا په برخه کې بورسـونه ورکړي.سفارت ویلي ،چې د محصلینو د ټاکلو پروسـه به د آغا خان بنسـټ په همکارۍ تـرسره شي.له ۳۵ کلونـو څخه کم عمـر، د انګلیسي یا جاپاني بشـپړه پوهه او غوره تعلیمي لاسته راوړنـې د جاپان سکالرشـپ له شرایطو څخه دي.د دې بورسونو ترلاسه کوونکي به د ۲۰۲۴میلادي کال په اپریل کې جاپان ته سـفر وکړي. څه موده وړاندې جاپان د دې هیواد په مالي مرسته په بامیان کې د یوه ښـوونځي، ټولنیز مرکز او د اوبو برښنا د یوې کوچنۍ فابریکـې د جوړولو اعلان کړی و.

# ملګرو ملتونو د افغانستان لپاره سراتیژیک چوکاټ جوړ کړی

ملګرو ملتونو لـه ۲۰۲۳ میلادي کال څخـه تـر ۲۰۲۵ م کالـه د افغانستان لپاره خپل ستراتیژیک چـوکاټ وړاندې کـړی، چې له افغانانو څخـه د ملاتړ په برخه کې د دغه سـازمان لومړیتوبونه وړاندې کوي.په افغانسـتان کې د یـاد سـازمان لـه مرسـتندوی دفتر یوناما څخه په خپره شـوې خبرپاڼه کې د ((روزا اوتونبایوا)) په حواله راغلي ،چې دا چوکاټ د افغانستان له خلکو سره د مرستو پیاوړي وړاندیز دی ،چې اساسي بشري اړتیاوې په ګوته او د ژوند ژغورونکو بشري مرستو روان بهیر بشـپړ کړي.په خبرپاڼه کې لومړیتوبونه په ګوته شوي ،چې په کې په کلیدي سـکتورونو کې ټولو ته له هـر ډول تعصب پرته په وړیا ډول د خدمتونو رسـول، خلکـو تـه اقتصـادي فرصتونه رامنځته کول او ټولنیز پیوستون پکې په شامل دي ، په خپره شوي خبرپاڼه کې دغه راز د افغانستان لپـاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړي استازي دمرستیال او د بشري مرستو د همغږي کوونکي ډینیل انډریس له قوله ویل شوي چې ملګـري ملتونه او همکاران یې...

۵مخ

